


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه، علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست !

# د مولانا داکتر محمد سعيد « سعيد افغانی » ليکنه

د مجدد نشر نېټه : 1 اګست 2021 ميلادی

# بايد مغرض خلک وپيژنو

په اجتماعي ژوند کښی د خلکو پيژندنه نهايت ضروری ده او دا ځکه چه په خلک کښی داسی خلک شته ، چه خلک غولوی او په دغه لياره کی پوره مهارت لري.

هغه جوامع چه په خلکو کښی ئې د ښو او بدو خلکو د پيژندنی ذهنيت زهير او ضعيف دی، حتماً هلته اجنبي لاسونه په مختلفو هيلو سره کار کوي او د عمومي تباهي وسايل زياتوي .

هغه اقوام او ملل چه ترننه پوری د استعمار او استثمار په لوبه کی ګير پراته دی، د هغوی يوازنی علت هم دادی چه د خپل او پردی د توپير کولو قواوی ئی زهيری دي او بل داچه که څه هم چال ، فريب او غولول ګناه او اخلاقي جرم دی. مګر؛ شته دی داسی عناصر چه د خپلو شومو مطالبو د پاره د دی ډول ګناه او اخلاقي جرم ، هيڅ کوم خيال نه ساتی .

حضرت محمد ( ص) فرمائئ :
د قيامت په لوی ورځ کښی به خائينان او غداران په غټ شرم مبتلای او خلک به دوی په دير سخت وضعيت او رسوائی کښی وينی .
دوی به د دغی رسوائی په واسطی سره ، خلک پيژنی چه په دنيا کی ئی په دير عامليت سره د غولولو ، فريب ورکولو او خيانت کارونه کول .

هو : دوی به خپل تورکارونه سپين معرفی کول او دخلکو په افکارو او عقيدو به ئی د ناوړو مقاصدو ترلاسه کولو دپار، سلطه پيدا کوله .

واقعاً هغه کسان چه خلک غولوي او د خپلو ناوړو مقاصدو او اخلاقي او اجتماعي تباهيو دپاره ئی استعمالوی ، د اجتماع دپاره بد او مخرب عناصر دی ؛ کوم چه د ډيرو بدبختيو او پسمانيو موجب کيږی. دارنګه عناصر بايد خلک وپيژی اودوی ته دا موقع ورنه کړی چه څوک د دوی په سرنوشت طفلانه لوبی وکړی .

متاسفانه چه د بشر  په  تاریخ  کښی  داسی  عناصر څه   د پردیو د استعمال  په و چه او څه د خلکو د ساده  ټوب  له امله دیری وران  کاری کړی او خلک ئی  د ډیرو بدبختو سره  مواجه گرځولي  دي .
دا هغه خلک دی چه  متاسفانه په  خلکو کی ئی  ځان  پوه  او عالم معرفی  کړی وي او خلک ورته د پرهیزگاری عقیده  لری ، مگر؛  دوی دننه بل رنګه وي .

دوی ته  خلک د  دینداره  ښه  سړی ټوب عقیده لری ؛  خو دارنګه خلک  کله کله  د لباس او جامو په اسطه حقایق  سرچپه کوي   او دیو څو غلط  مقصد په  وجه د خلکو دقت او توجه ځان ته اړوی.
زه  دانه وایم  چه په دغه  قواره ټول خلک  مغرضان  دی .
زما  دا مقصد نه  دی  چه هر چا  چه عبا، قبا ، لباده ، عمامه ، چلتار ، لویه  شنه  امسآ ، او اوږدی تسبی ئی  در لودی هغه  به مغرض وي.
نه خیر!!  داسی وینا هم په کلی طور سره غلطه ده . بلکه  ښه سړی ټوب  د زړه کار دی او د دښو احسن اعمالو په کولو سری مینځ  ته  راځی .

ښه سړی ټوب یوازی په  گیری کښی  نه دی ، اونه هم په سپینه پکړی او اوږدو جامو کی دی !! بلکه ښه سړی ټوب د ځان  په اصلاح  کښی  او د خدای ( ج ) او د خلکو د حقوقو د پیژندلو  او د خیر غوښتلو محصول دی  چه په ښه نیت ، اراده او اخلاص  د بشر د سعادت ، ترقي او تعالي  په لیاره کښی، اوسي .

ښه خلک د خلکو سره په روان چال او چلند کښی معلومیږی نه دا چه هیڅ نه کوی او نه د خلکو د کارونو طرفدار وي.

ښه خلک هغه دی چه خلک ئی دلاس او ژبی د ضرر څخه په امن کښی وي او د چا مالونوته ئی سترگی نه وی پټی کړي .

هغه خلک واقعآ ښه خلک دي چه د خلکو سره مینه او محبت لری او د جامعی او د وطن د خدمت په لیاره کښی  د حیات تر آخره رمقه پوری سعیه او کوشش کوي .

هغه کسان واقعأ ښه خلک دی چه وسعه ئی رسیږی مگر؛ چاته ضرر نه رسوی او سره له قدرته د چا مال نه خوری اونه په چا ظلم کوي .

هغه خلک رښتیا ښه خلک دی چه د خلکو په تکلیفونو او مشکلاتو  خوریږی او تر څوئی قدرت رسیږی د خلکو سره په لاس ، ژبه  او مال کی  فقط  او فقط خدائی ،  مرسته او معاونت کوي .
نو په دی  اساس که چیری دارنګه خلک ، که خلک دوست وګڼی او د دوی په خبر و عمل وکړي  او یا دوی ته د خدمت په لیاره کښی وسایل برابر کړی ؛ حق او لیاقت لری.

خلک باید ښه متوجه اوسی چه د ښو او بدو خلکو په پیژندلو کښی خطا نشي  او کوښښ وکړي چه د هرچا په خبرو ونه غولیږی .

زه پدی لیاره کښی یو سلسله  تجربه لرم، ځکه ډیر داسی خلک می لیدلی چه دوی په غوړو خبرو او چالونو سره، خلک تباه کوي او له دغی لیاری څخه د دښمنانو په ګټه کارونه کوي .

ما ډیر داسی خلک لیدلی چه د خپلی غلطی خبری د تائید د پاره له ځانه د حضرت حق ﷻ او د ده د مقرب رسول په وینا دلیل نیسی او یا د نورو پیغمبرانو او اصحابو اقوال د خپل تائید د پاره راوړی. خو حقیقت هغه نه وي او دوی په دروغو سره د ناپوهانو افکار خرابوی او په ډیر سپین سترگی ؛ حتی په پاک الله او دهغه پیغمبرانو باندی هم دروغ وائی .

ما ډیری داسی ویناوی په مجالسو کښی اوریدلی دی چه په خدای ( ج ) او پیغمبرانو د دروغو حواله ورکړل شوی ده . که څه هم ما اکثرأ صرفه نه ده کړی او په همغه مجلس کی می پری رد کړی ده .

مگر ؛ ځینی داسی هم شوی ده چه د فتنی او فساد په وجهی غلی شوی یم او څه می ندی ویلی او داځکه چی بله چاره می نه وه ، مگر؛ په زړه کښی ډیر خفه شوی یم او د داسی تباه کارانو په حال می تاسف کړی او د ځان سره می وایلی :

کاش : د انسان زړه لکه د هغه قهواره غوندی ، ښکاره وي ؛ ترڅو مغرض خلک چه د فتنی ، فساد او د بشر د تباهی موجب گرځي ، وپيژندل شي .

سعید افغاني

د جدی ۲۲ مه ، د ۱۳۴۴ هجري شمسي کال ـ ننگرهار

ترتیب کوونکی : برهان الدین « سعیدی »

www.said-afghani.org ـ بازگشت به صفحه اصلی